مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ډاکټر محمدآجان مرزئ ۲۰۲۰/۰۲/۲۸

# د هېوادونو پر اقتصادي ودې د کرونا وېروس اغیز

د کورونا وېروس د لومړي ځل لپاره د ۲۰۱۹ میلادی کال د دسامبر په میاشت د چین د ووهان په ښار کې راڅرګند شو. له دې مودې راپدې خوا د سګو په دې ناروغی د اخته کسانو شمېر نه یوازې په چین بلکه د نړۍ په نورو هېوادونو کې هم مخ پر زیاتېدو دی. خو باېد وویل شي، چې په دې وېروس د اخته کسانو او هم مړو شوو کسانو شمېر د چین په پرتله د نړۍ په نورو هېوادونو کې تر اوسه کم دی. د روان میلادې کال د فبرورۍ د میاشتې تر ۲۵ نېټې پورې په دې وېروس د اخته کسانو شمېر ۸۰.۱۴۷ تنو، د مړو شوو کسانو شمېر ۲.۶۹۹ تنو او د معالجه شوو کسانو شمېر ۲۷.۶۶۱ تنو ته رسېدلو. د کورونا په وېروس د اخته کسانو ۹۶،۹% برخه په چین کې ژوند کوي (د آلمان د تحریر شبکه RND، ۲۰۲۰). د چین تر څنګه د جنوبي کوریا، جاپان، د امریکا متحده ایالتونو، ایتالیا، سنګاپور، ایران او هم په ځینو نورو هېوادونو کې زیات شمېر کسان په دې ناروغۍ اخته شوي دي.

دا چې د دې وېروس پر ضد تر اوسه کوم واکسین ندی جوړ شوی او هم د اخته شوو او هم مړو شوو کسانو شمېر ورځ په ورځ زیاتېږي، که څه هم چې تر اوسه دومره زیات ندی، خو سره له دې هم همدا اوس وېلای شو، چې دا ناروغي به د نړۍ پر اقتصاد ناوړه اغیز ولري. اوس مهال، اقتصاد نړیوال شوی دی او د هېوادونو ملي اقتصادونه او د هغوی وده له یوه او بل سره تړاو لری. په ځانګړې توګه د پرمختللو هېوادونو اقتصادونه د درشلیزو هېوادونو له ملي اقتصادونو سره نه شلېدونکې اړیکې لري. پرمختللي هېوادونه د خپلو استهلاکي محصولاتو زیاته اندازه د چین په شان درشلیزو هېوادونو کې تولیدوي. د دې ترڅنګه درشلیز هېوادونه د صنایعو په سکتور کې ارزښتناک رول لوبوي او زیاته اندازه نیم کاره مواد د پرمختللو هېوادونو د صنایعو لپاره، د بېلګې په ډول د موټر جوړولو د صنایعو لپاره جوړوي او دې هېوادونو ته یې صادروي. د دې محصولاتو په عرضه کې د اختلال د رامنځته کېدو پر مهال دواړه خواوې له اقتصادي پلوه زیانمنې کېږي. د چین په شان هېوادونه د پرمختللو هېوادونو د استهلاکي محصولاتو لپاره د خرڅلاو مهم بازارونه هم دي.

که په چین کې تولیزه تقاضا کمه شوله، فابریکې وتړل شولې او توریزم بند شولو، نو دا به نه یوازې د چین د اقتصاد لپاره منفي پایلې ولري، بلکې د نړۍ د نورو ملي اقتصادونو لپاره هم، په ځانګړې توګه د هغو هېوادونو لپاره چې له چین سره د بهرنۍ سوداګرۍ نږدې اړیکې لري. له هغې مودې چې په چین کې د کورونا وېروس راڅرګند شوی دی، د نړۍ زیاتو هېوادونو هوایي شرکتونو خپل الوتنې دې هېواد ته تر زیاته حده محدودې او یا بند کړې دي. چین د هوایي مسافرینو یو لوی بازار دی، په ځانګړې توګه د کورنیو پروازونو له مخې. له دې امله به له ټولو د مخه د کورونا د وېروس له امله د چین هوایي شرکتونه - Air China او China Southern زیانمن شي. د ملګرو ملتونو د نړیوال ملکي هوانوردۍ سازمان (ICAO) د اټکل له مخې به د روان میلادي کال په لړ کې د کورونا وېروس له امله هوایي شرکتونو ته څه ناڅه ۴ تر ۵ میلیارده ډالر تاوان رامنځته شي.

چین د آلمان د موټر جوړولو سکتور لپاره یو ارزښتناک هېواد دی. آلمان له یوې خوا دې هېواد ته موټر صادروي او له بلې خوا په چین کې هم د موټر جوړولو فابریکې لري. که د موټر جوړولو فابریکې او هم ننداړتونونه او د خرڅلاوځایونه د یوې زیاتې مودې لپاره وتړل شي، نو دا به د آلمان د موټر جوړولو سکتور ته یوه حساسه ضربه وارده کړي. له بلې خوا که فابریکې تړل شوې وي نو کارګران هم خپل عایدات له لاسه ورکوي او په دې توګه په ملي اقتصاد کې په تولیزه توګه د تقاضا کچه کمېږي، چې د خلکو د ژوند پر کچې مستقیم اغیز اچوي. د چین مرکزي بانک له دې حالت څخه د مخنیوي لپاره د فبرورۍ د میاشتې په پیل کې، په ځانګړې توګه د تقاضا د لوړ ساتلو لپاره ۱۷۴ میلیارد ډالر بازار ته عرضه کړل او بانکونو ته یې د پور ورکونې سود نرخ ټیټ کړو (رویټر، ۲۰۲۰).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ځرنګه چې مخکې یادونه وشوه د کورونا ویروس له امله ناروغۍ په استهلاکي سکتور باندې هم ناوړه اغیز غورځولای دی. د چین اقتصاد، په ځانګړې توګه، له نویېمو کلونو وروسته ډېره چټکه وده وکړه او له دې ودې سره جوغت د چین په ټولنه کې یو منځنی قشر هم رامنځته شو، چې په ډېرو ملي اقتصادونو کې د کورنۍ تقاضا لپاره یو ارزښتناک بنسټ جوړوي. له همدې امله په تېرو لسیزو کې د پرمختللو هېوادونو د استهلاکي محصولاتو تصدیو خپلې ځانګې په دې هېواد کې پرانستلې او فعالیت یې پیل کړو. اوس مهال دغو تصدیو، چې زیادتره برخه یې د لوکسو کالیو او الکترونیکي توکو تصدی دي، په چین کې خپل فعالیت د یوې مودې لپاره ځنډولی دی. دا په خپله د دې تصدیو او شرکتونو پر عوایدو ناوړه اغیز غورځوي.

په چین کې د منځني قشر له رامنځته کېدو سره له دې هېواد څخه نورو هېوادونو ته د سېلانیانو شمېر هم زیات شولو. له دې حالت څخه هم د چین او هم د هغو هېوادونو اقتصاد ته ګټه رسېږي، چې سېلانیان ورځي. په ۲۰۱۸ میلادي کال کې له چین څخه آلمان ته ۱،۸ میلونه سیلانیان راغلي وو. د دې سیلانیانو نه راتګ به هم د چین او هم د آلمان ملي اقتصاد ته زیان ورسوي. په لومړي سر کې له دې امله د هوټلدارۍ ځانګه زیانمنه کېږي. ځرنګه چې د ملي اقتصاد بېلابېلې ځانګې له یو او بل سره تړاو لرې، نو د یوې ځانګې زیان نورې ځانګې او سکتورونه هم زیانمنولای شي (ZDF تلویزیون، ۲۰۲۰) .

د اقتصادپوهانو په آند به د چین د ملي اقتصاد وده د روان میلادي کال د لومړۍ ربعې په لړ کې ۴،۵% ته راښکته شي. د چین د ملي اقتصاد وده د تېر میلادي کال په لومړۍ ربعه کې ۶% وه (نړېواله اقتصادي مجمع، ۲۰۲۰). په چین کې د تولید د کچې له راټیټېدو سره یوځای خامو موادو ته اړتیا او په دې توګه تقاضا هم کمېږي، په ځانګړې توګه خامو نفتو ته. چین په نړۍ کې د نفتو له ټولو لوی واردوونکی هېواد دی. نفتو او هم نورو خامو موادو ته د تقاضا له کمېدو سره په نړۍ کې د دې موادو بیه هم رالوېږي او په پایله کې هغه هېوادونه، چې دا مواد چین او هم نورو هېوادونه ته صادروي زیانمن کېږي.

په دې توګه د نړۍ د ډېرو هېوادونو په اقتصادي چارو کې د راتلونکې په اړه یو ډول ناباوري رامنځته شوې ده. په پانګوال اقتصاد کې پر پازار باور د اقتصادي کړو یو بنسټیز عنصر دی. هر هکله چې په ملي اقتصاد کې د متصدیانو او یا پانګه اچونکو باور پر بازار کم شي، نو خپلې پانګې اچونې هم کموي. دا حالت اوس مهال، په ځانګړې توګه په څو تېرو ورځو کې د پرمختللو هېوادونو په مالي بازارونو کې هم لیدل کېږي. په تېرو ورځو کې د نړۍ په ډېرو پرمختللو هېوادونو کې د ونډو بازارونو (بورسونو) د شاخصونو نرخ له ۳% تر ۵% ټیټ شولو.

د روان میلادي کال د فبرورۍ د میاشتې په وروستۍ اونۍ کې MSCI نړېوال شاخص خپل ۸،۹% ارزښت له لاسه ورکړ. د پرتلې په توګه د دې شاخص ارزښت د ۲۰۰۸ میلادي کال د نوامبر په میاشت کې، د نړېوال مالي بحران پر مهال، د یوې اونۍ په لړ کې ۹،۸% کم شولو. MSCI نړېوال شاخص د ۲۳ صنعتي هېوادونو له ۱.۶۰۰ ونډو څخه جوړېږي (شپیګل، ۲۰۲۰). په دې توګه ویلای شو چې دا شاخص په نړۍ کې د اقتصادي ودې یو ډول هېنداره ده.

افغانستان هم په تېره اونۍ کې په ایران کې د کورونا په ویروس د اخته کسانو له زیاتېدو وروسته، له دې هېواد سره خپلې پولې په مؤقتې توګه وتړلې او په دې توګه به له دې هېواد سره هیڅ ډول هوایي یا ځمکنی تګ راتګ نه کېږي. دا کار د هېواد پر اقتصاد په لنډمهاله توګه منفي اغیز لرلی شي. افغانستان یو وارداتي هېواد دی او هرکال زیاته اندازه استهلاکي او تولیدي محصولات، خام مواد او د تولید لپاره نیم کاره مواد له بهرنیو هېوادونو واردوي. ایران د چین او پاکستان تر څنګه د افغانستان د بهرنۍ سوداګرۍ یو ارزښتناک شریک هېواد دی. په ۲۰۱۸ میلادي کال کې هېواد ته له ایران څخه د وارداتو ټوله بیه څه ناڅه ۲،۵ میلیارد ډالر وه او د وارداتو مهم اقلام نفت، خام مواد، نیم کاره مواد، کیمیاوي مواد، د نساجۍ محصولات، لرګي، کرهنیز مواد او داسې نور وو. دلته لېدل کېږي چې له ایران څخه واردېدونکي مواد هم د هېواد په استهلاکي او هم تولیدي سکتور کې ارزښتناک ورل لوبوي. که د دې موادو په عرضه کې خنډ رامنځته شي نو د بیو د لوړېدو لامل ګرځېدلای شي او په دې توګه به هم د مؤلدینو او هم د مستهلکینو پر عوایدو ناوړه اغېز رامنځته کړي.

**اخځلیک:**


۱- د آلمان د تحریر شبکه، د کورونا ویروس: د سګو د Covid 19 ناروغۍ په اړه پوښتنې او ځوابونه ، ۲۰۲۰.
(په لیکه), دلته یې وګورئ: د آلمان د تحریر شبکه RND
(د لاسرسي نیټه: ۲۰۲۰/۰۲/۲۵)





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۲- رویټر، پر مالي بازارونو او اقتصاد د کورونا ویروس اغیزې، ۲۰۲۰،
(په لیکه)، دلته یې وګورئ: رویټر
(د لاسرسي نیټه: ۲۰۲۰/۰۲/۲۶)

۳- ZDF تلویزیون، دا شانګې د کورونا ویروس له زیان سره مخ دي، ۲۰۲۰،
(په لیکه)، دلته یې وګورئ: ZDF تلویزیون
(د لاسرسي نیټه: ۲۰۲۰/۰۲/۲۵)

۴- نړیواله اقتصادي مجمع، په نړۍ کې د COVID-19 کورونا ویروس اقتصادي اغیزې، ۲۰۲۰،
(په لیکه)، دلته یې وګورئ: نړیواله اقتصادي مجمع
(د لاسرسي نیټه: ۲۰۲۰/۰۲/۲۷)

۵- شپیګل، د ونډو بازارونه د ۲۰۰۸ بحران راپدې خوا له ټولو خرابې اوونۍ سره مخ دي.، ۲۰۲۰،
(په لیکه)، دلته یې وګورئ: شپیګل
(د لاسرسي نیټه: ۲۰۲۰/۰۲/۲۷)

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ